# ږغونه

اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د محرم ۲۳مـــه، ۱۴۴۷ هـ.ق کال
چنګاښ/سرطان ۲۸مه، ۱۴۰۴ هــ.ش

لومړی کال، پرلـه پسـې ۲۲مـه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## په دې ګڼه کې لولئ:


بلخ — کار قیـر ریـزی فـاز دوم سرک امارت در پـارک های صنعتی شهر مزار شریف جریان دارد

فراه — فراه ښـاروال: روان ۱۴۰۴ مـالي کال کې به نږدې ۲۸ پرمختیایي پروژې پلې شي

فاریاب — اعضای کمیسـیون نظم و توسـعه شـهری شـاروالی میمنه از نقاط مختلف شـهر نظارت کردند

غزني — غزني ښــار په پښــتون اباد کې د ۸ میلیونو په ارزښت یو سړک په اساسي توګه ورغول شو

کندهار — کندهار اوومه او اتمه ناحیه کې د یخي جوړولو له کارخانو څخه نظارت ترسره شو

ننګرهار — جلال اباد ښـار اوومه ناحیه کې د ۱۱،۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د سړک او ویالو جوړولو کارونه پیل شول

پروان — آماده‌سازی یک کیلومتر ګلدان برای غرس ګل‌های زینتی در چاریکار

پکتیکا — د ښرني ښاروالی له لوري د څه باندې ۱۶ میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو پروژو پرانیسته وشوه

بلخ — کار ساخت کوچه ششم دشت شـور در ناحیه نهم شهر مزارشریف جریان دارد

غزني — د غزني ښاروالی ریاست له لوري د ښار لومړی او پنځمه ناحیه کې ۳ پروژې ګټې اخیســتنې ته وسپارل شوې

پکتیا — ګردېز ښار میرزکي او سیدکرم لین سړک د اسفالتو بېنډړ طبقې چارې پیل شوې

غزني — غزني ښار د حیات اباد ســړک پروژه د ۸ میلیونو افغانیو په ارزښت پیل شوه


## غزني کې د ۲۴ میلیونه افغانیو په ارزښــت د دریو پروژو چارې بشپړې شوې



غزني

## د ښرني ښــاروالی له لوري د څه باندې ۱۶ میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو پروژو پرانیسته وشوه



پکتیکا

## جلال اباد ښــار اوومه ناحیه کــې د ۱۱،۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د ســړک او ویالو جوړولو کارونه پیل شول



ننګرهار

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# رغونه اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## کار تنویر و تزئین مسجد جامع الفتح در شهر مزارشریف تکمیل گردید




بلخ ۱

به اساس هدایت مقام ولایت بلخ و به اثر تلاش حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف، کار تنویر و تزئین مسجد جامع الفتح در وسط چهاراهی کامگار از سوی شاروالی مزارشریف در ساحات ناحیه هفتم و دهم در شهر مزارشریف تکمیل گردید.

تزئین و تنویر مسجد جامع الفتح شامل، بازسازی چراغ های تنویر و نصب گروپ های رنگارنگ می باشد، که کار آن در مدت سه روز کاری تکمیل گردید.

## کار قیر ریزی فاز دوم سرک امارت در پارک های صنعتی شهر مزار شریف جریان دارد



بلخ ۲

کار قیرریزی فاز دوم سرک امارت در پارک های صنعتی ناحیه ششم شهر مزارشریف به هزینه ۴۰ میلیون افغانی از گذر خانقا الی سیل بر به طول بیش از ۱۴۰۰ متر و عرض ۱۴ متر از بودجه انکشافی شاروالی مزارشریف جریان دارد.

این پروژه شامل ساخت شش پلچک معیاری، کانال های آبرو، خط اندازی روی جاده، گلدان های وسطی و سایر جزئیات یک سرک معیاری می باشد، که کار آن ۹۰٪ به پیش رفته است.

با تکمیل و به بهره برداری این سرک زمینه رشد اقتصادی ساحه و تسهیلات متعدد برای صنعت کاران ایجاد می گردد.

### د مهترلام ښاروالۍ خبرتیا

مهترلام ښاروالۍ غواړي چې د خپل اړوند وسایطو او ماشینرۍ لپاره د اړتیا وړ تیل، روغنیات او فلټرونه د قرارداد له لارې تهیه کړي، هرڅوک چې د قرارداد لیوال وي خپل غوښتنلیکونه دې د خبرتیا له نشر څخه تر ۲۱ ورځو پورې د مهترلام ښاروالۍ تدارکاتو او خدماتو مدیریت ته وسپاري.

لغمان

## د جلال باد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یو ایـن هبیتات همکارۍ مؤسسې له لوري اتمه ناحیه کې د ۴۴۰ مترو په اوږدوالي د استنادي دیوال چارې بشپړې شوې




ننګرهار ۳

د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یو این هبیتات همکارۍ مؤسسې له لوري د اتمې ناحیې په بلابلو برخو کې د ۴۴۰ مترو په اوږدوالي د استنادي دیوال، ۱۰۰ کورونو د بیا ترمیم او اوو پایو سولرۍ برېښنا چارې پای ته ورسېدې.

د یادو پروژو د پرانیستې په مراسمو کې د جلال اباد ښاروالۍ د تخنیکي او سکټوري چارو رئیس انجنیر وحیدالله مخلص، د ناحیې امر مولوي رحمت الله فاروق، د یو این هبیتات مؤسسې د شرقي زون مشر انجنیر عبدالحق تحریک، د ګذر وکیلانو او اوسېدونکو ګډون کړی وو.

د سیمې اوسېدونکو د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې یادې مؤسسې له کارکونکو خوښي څرګنده کړه چې د بیوزله او راستانه شویو کډوالو کورنیو سره یې د لاسنیوي په موخه دغه پروژې پلي کړې.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د داخلي عوایدو ترڅنګ د همکارو مؤسسو په مرسته درنو ښاریانو ته خدمتونه وړاندې کړي.

**الحاج قاری فدا محمد فدایی ولسوال شکردره ولایت کابل با مولوی روح الله احمدی شاروال شکردره از پروژهای سال مالی ۱۴۰۴ شاروالی شکردره نظارت نمودند و از کار یک خانه رهایشی که به شکل خودسرانه اعمار میگردید، جلوگیری صورت گرفت.**

**همچنان کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی شکردره جهت صفایی و حفاظت از محیط زیست این ولسوالی، زباله های مضره بازار شاه مردان، قلعه مرادبیک، حسین کوت، شهرک جمال مینه و کوچکین را پاکسازی نموده و به مکان مناسب آن انتقال دادند.**




شکردره/کابل ۴

## اسعداباد ښـار د اداري چارو د بهبود په موخه اداري ناسته ترسره شوه




کنړ ۵

د اسعداباد ښاروال مولوي نظرمحمد عتیق په مشرۍ د اداري مجلس ناسته ترسره شوه، ښاروال مولوي عتیق پر وخت د خدمتونو وړاندې کولو، عوائیدو تحصیل، ښاري نظم، IFMS سیسټم له طریقه د رهایشي او تجارتي تعرفو توزیع او دې ته په ورته موضوعاتو بحث او سپارښتنې وکړې.

د اجندا سره سم د ښاروالۍ اداري کارکونکو د خپلو مدیریتونو په نویو برنامو او ترسره شویو موضوعاتو معلومات وړاندې کړل او د ښاروال څخه یې د پروګرامونو د تطبیق په برخه کې د همکارۍ هیله وکړه.

د نن ورځې د اداري مجلس په پای کې یو لړ خاص مسؤولیتونه او دندې مسـؤولینو ته وسپارل شوې او همدارز په ځینو خاصو مواردو تصامیم او پریکړې وشوې.

## کندهار ښاروالۍ په ښار کې د پلمېتو او یخي کارخانو څخه نظارت ترسره کړ



کندهار ۶

د کندهار ښـاروالۍ اړوند د مارکېټونو تنظیم مدیریت ادا ځل د یخـي او پلمېتو جوړولو له کارخانو څخـه د نظارت په موخه له نږدې لیدنه وکړه.

پـه دغه لیدنه کـې د یخـي او پلمېتو کارخانو مسـؤولینو او کارکوونکو تـه د نظافت او پاکوالي مراعتولـو، د صحت کارت درلودلو، ځانګړي لباس اغوستلو، د فعالیت جوازونو د نوي کولو، د باکیفیته او غوره تولیداتو وړاندې کولو او چاپېریال ساتنې ته د جدي پاملرنې په اړه مهمې سپارښتنې وشوې.

د یادونې وړ ده چې د مارکېټونو تنظیم مدیریت به د خپل پلان له مخې د ښـار د مختلفو تولیدي کارخانو څخه د نظارت بهیر دوامداره وساتي.

## د محمودراقي ښاروالۍ له خوا د ده باباعلي د شنبه بازار څخه کنټرول او څارنه ترسره شوه


کاپیسا ۷

د بازارونو د منظمې څارنې او کنټرول په لړ کې، د محمودراقي ښاروالۍ کارکوونکو نن شنبه د ده باباعلي د شنبه بازار څخه د څارنې چارې ترسره کړې.

دغه څارنه چې د ښاري نظم د ټینګښت، د چاپېریال ساتنې او د ښاري اصولو د تطبیق په موخه ترسره شوه، د پلې لارو خلاص ساتل، د غږيزې ککړتیا مخنیوی، د ښاري تخلفاتو مخنیوی، د معیاري تیګو څخه په راکړه ورکړه کې استفاده او یو شمېر نور مهم موارد شامل وو.

د ښاروالۍ مسؤلین ډاډ ورکوي چې دا ډول څارنې به په دوامداره توګه ترسره کېږي څو ښاري چاپېریال لا منظم، پاک او د اوسېدونکو لپاره مناسب وي.

## فراه ښاروال: روان ۱۴۰۴ مالي کال کې به نږدې ۲۸ پرمختیايي پروژې پلې شي



فراه ۸

فراه ښاروال مفتي سردار محمد مرصاد، وایي چې د ۱۴۰۴ مالي کال لپاره د ښاروالۍ د رغنيز پلان له مخې به نږدې ۲۸ کوچنۍ او لويې پروژې د فراه ښار په بېلابېلو پلاني ساحو کې د ښاروالۍ له لورې پلې شي.

ښاروال ښاغلي مرصاد زیاتوي چې یادو پروژو ته د ښاروالۍ له پرمختیايي بودجې څخه شاوخوا ۱۸۰ میلیونه افغانۍ ځانګړې شوې دي. د دې پروژو په لړ کې د سړکونو اساسي جوړول، لښتې، د پلچکونو جوړول او د ښار د ښکلا، تنویر او سمسورتیا پکې شامل وي.

فراه ښاروالۍ رهبرۍ له ښاریانو څخه غوښته کوي چې د پروژو په پلي کولو او ساتنه کې له ښاروالۍ سره همکاره پاتې شي.

## ترینکوټ ښاروالۍ د ښاري نظم د ټینګښت په موخه د ښار څخه نظارت ترسره کړ


ارزګان ۹

د ترینکوټ ښاروالۍ او ترافیکو امریت په ګډې همکارۍ ښار کې د پلور لارو د خلاصون په موخه د ښار څخه نظارت ترسره کړ؛ چې له مخې یې د ښار یو شمیر پلې لارې خلاصې او د بندو پلو لارو اړوند هټیوالو ته د ښاري نظم د ساتلو په موخه لازمې سپارښتنې هم وشوې.

د پلو لارو د خلاصون په موخه د ښار څخه دغه نظارت د نازو انا، میرویس نیکه احمدشا بابا عمومي جادو کې ترسره او یو شمیر پلې لارې خلاصې شوې.

دا چې د ترینکوټ ښاروالۍ ریاست د ښاري نظم راوستو په موخه یوه کمیټه جوړه کړه د یادې کمیټې غړي هره ورځ د ښار په کچه له ښاري نظم څخه په دوامداره توګه څارنه کوي، څو هټیوال او ورته نور د سوداګریزو فعالیتونو فعالیت کوونکي خپل فعالیتونه منظم او ښاري اصول مراعات کړي.

## اعضای کمیسیون نظم و توسعه شهری شاروالی میمنه از نقاط مختلف شهر نظارت کردند


فاریاب ۱۰

اعضای کمیسیون نظم و توسعه شهری شاروالی میمنه به گونهٔ منظم و مستمر از جریان نظم و اصول شهری ساحات جاده تربت جان بابا، کوهیخانه، کوچه مارکیت و کوچه پلاستیک فروشی نظارت نمودند و اموال مزاحم دکانداران و دستفروشان را که در پیاده روها انبار شده بود، جمع آوری نمودند و پیاده روها را بروی عابرین باز کردند.

اعضای این کمیسیون از همه اصناف، دکانداران و متشبثینی که در شهر فعالیت می کنند خواستند تا پیاده روها برای عبور و مرور عامه باز نگهدارند و در قسمت بهبود پاکی و تنظیم ترافیک شهر با شاروالی همکاری نمایند.

## غزني کې د ۲۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د دریو پروژو چارې بشپړې شوې


غزني ۱۱

د غزني ولایت مرکز د څلورمې او شپږمې ناحیو اړوند د ارباباو نواباد سیمو کې د دریو سړکونو د رغولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د یادو پروژو د پرانېستې پرمهال د غزني ښاروالي سکتوري امر حاجي فضل احمد مدني وویل په یادو پروژو باندې ۲۴ میلیونه افغانیو لګښت راغلی چې د نړیوال بانک له لوري ورکړل شوې او تخنیکي چارې یې (UNOPS) مؤسسې مخته وړې دي.

نوموړي وویل، د سړکونو له جملې دوه سړکونه په ارباباو او یو سړک د نواباد په سیمو کې موقعیت لري چې کانکرېټ شوي او د هر سړک اوږدوالی ۶۰۰ متره او پلنوالی یې ۶ متره ده، چې ټول مکمل ۱۸ سوه متره سړکونه کېږي او ترڅنګ یې د اوبو تېربدو په موخه ویالې هم جوړې شوي دي.

نوموړي وویل د یادو پروژو چارې د دریو میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

هغه زیاته کړه په دې پروژو کې د ورځې ۳ سوه تنو کاریګرو ته د کار زمینه هم برابره شوې وه.

په ورته وخت کې د سیمې اوسېدونکي د دغو پروژو په بشپړېدو خوښي څرګندوي او له یاد ریاست څخه د ورته نورو پراختیايي پروژو د پلي کېدو غوښتنه هم کوي.

د ارباباصاحب د ګذر وکیل حاجي نصرالله وویل دغه سړکونه د غزني ښار له مهمو سړکونو څخه دي چې د ورځې پر دې لارو زرګونه کسان زده کوونکي او ناروغان تګ راتګ کوي.

د یادونې ده چې له وړاندې هم د غزني ښاروالۍ له لوري د یادې مؤسسې په همکارۍ په غزني ښار کې د یو شمېر نورو سړکونو او کوڅو جوړولو چارې هم پیل شوې دي.

**اداره شاروالی ولسوالی نهرین با استفاده از منابع عایداتی خویش پروژه کانکریت ریزی سرک عمومی داخل شهر ولسوالی نهرین، جغل اندازی کوچه های فرعی وبعضی از ترمیمات ساختمانی اداره شاروالی را آغاز نموده است که آغاز کار این وپروژه ها مورد استقبال شهروندان و متنفذین ولسوالی نهرین قرار گرفته است.**


بغلان ۱۲

## غزني ښـــار په پښـتون اباد کې د ۸ میلیونو په ارزښت یو سړک په اساسي توګه ورغول شو



غزني ۱۳

د غزني ښاروالی ریاست د ښاري پراختیا او بنسټیزو خدمتونو د پیاوړتیا په هدف د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو دفتر په مالي همکارۍ د پښـتون‌اباد دویم ګذر سـړک د کانکریټ چارې بشپړې او رسماً ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د پروژې مسـؤول انجنیر حسـن طوطاخېل وویل چې د یاد سـړک اوږدوالی ۷۴۷ متره او پلنوالی یې ٦ متره دی چې د نوي کانکریټي جوړښـت له مخې پیـاوړی او معیاري رغول شوی دی.

نوموړي زیاته کړه چې دغه پروژه نه یوازې د ترافیکي ستونزو حل ته لاره هواروي بلکې د سـیمې د زرګونو اوسېدونکو ژوند ته اسانتیاوې برابروي.

په دې پروژه کې ګڼ شمېر محلي کارګران په ځانګړې ډول د مهاجرینو په کار بوخت و چې له یـوې خوا ورته د کار زمینه برابره شوه او له بلې خوا د ټولنې یوه بنسټیزه اړتیا پوره شوه.

د یادې سیمې یو تن اوسېدونکی وایي موږ ډېر خوښ یو چې دا سـړک ورغول شو نور به له دړو ختو او خنډونو خلاص شو زموږ د تګ راتګ اسانتیاوې زیاتې شوې.

د غزني ښـاروالی مسـؤولین وایي چې د یـادې پروژې تطبیق د ښاري نظم ښکلا او د خلکو هوساینې ته مهم ګام دی دوی زیاتوي چې ورته پروژې به د ښـار په نورو سیمو کې هم عملي شي.

## جلسه اداری شاروالی تالقان برگزار شد




تخار ۱۴

جلسه اداری شاروالی تالقان به ریاست مولوی عبدالغفور سیرت و بـا حضور کارمندان این اداره برگزار گردید. در این نشسـت پیرامون جمع آوری محصول صفایی، تنظیم بازار، جلوگیری از فعالیت‌های خود سر دست فروشـان و فروش خربوزه در جاده های مزدحم، بحث و فیصله گردید.

شاروال تالقان بر نظارت جدی مدیران نواحی و تعیین محل‌های مشخص جمع آوری زباله تأکید کرد و فیصله گردید تا جلسات با نمایندگان اصناف جهت حفظ نظافـت و جلوگیری از ریختن زباله در مکان‌های غیرمجاز برگزار گردد.

جلسه با دعای خیر پایان یافت.

## برگزاری سمینار معلوماتی و توضیحی پیرامون طرح پروسه های ارتقای ظرفیت در شاروالی قلعه نو




بادغیس ۱۵

سیمینار آموزشی برای کارمندان شاروالی قلعه‌نو ولایت بادغیس به منظور ارتقاء ظرفیـت کارمندان، بهبود روند خدمات، سـمینار معلوماتی و توضیحی تحت عنـوان «برنامه معلوماتی و تشریحی پیرامون طرح پروسه‌های آموزشی وارتقای ظرفیت» برگزار گردید.

این برنامه با حضور هیئت اعزامی اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی ریاست عمومی اداره امور در شاروالی قلعه نو ولایت بادغیس تدویر گردید.

در ادامه، کارشناس نظارت ارزیابی اداره اصلاحات پیرامون اهداف، اهمیت و مزایای آموزش‌ها معلومات مفصل ارائه کرده و نقش آن را در بهبود کیفیت خدمات اداری برجسته ساخت.

**کارکنان شـاروالی میمنه در چهارچـوب پلان کاری خویش، منازل رهایشی ساکنان گذر بلوچ‌خانه مربوط ناحیه دوم شهر میمنه را ثبت نمودند. همچنان تعرفه های بانکی منازل رهایشـی که متراژبندی شـده‌اند، توسـط تیم موظف توزیع گردید و به ساکنان هدایت داده شده است تا محصول صفایی خویش را در وقت معین پرداخت نمایند.**



فاریاب ۱۶

**آبروهای مسدود شده نقاط مختلف شهر چاریکار توسط کارکنان مدیریت عمومی تنظیف و سرسبزی شاروالی چاریکار پاک کاری گردید.**

پروان ۱۷

## کندهار اوومه او اتمـه ناحیه کې د یخي جوړولو له کارخانو څخه نظارت ترسره شو



کندهار ۱۸

د کندهـار ښـاروالی اړونـد د نرخونو کنټـرول مدیریت، د امربالمعروف ریاسـت او د مستهلکینو ملاتړ کمېسیون سره په همغږۍ د ښـار په اوومه او اتمه ناحیه کـې د یخي جوړولو له کارخانو څخه د نظارت چارې ترسره شوې.

یاد نظارت د حفظ‌الصحې، د یخي کیفیت او د ټاکل شوي نرخ د تطبیق په موخه ترسره شـو. د دې نظارت پر مهال یوه کارخانه چې د فلټر د خرابوالي له امله یې بې کیفیته یخي تولیدولو، د مسؤولینو له خوا وتړل شوه.

همدارنګه، د یخـي جوړونکو کارخانو مسـؤولینو او کارګرو ته لارښوونې وشوې چې د نظافت اصول په جدي ډول مراعت کړي او د نرخنامې مطابق عمل وکړي.

## میدان ښار د نیالګیو خړوبولو چارې دوام لري



میدان وردګ ۱۹

د میدان ښـار ښاروالی د ښاري نظم او شـنه ښار په هدف، د کابل–کندهار لویې لارې دواړو خواوو کې کرل شوي نیالګي په منظم ډول خړوبوي. یاده چاره د ښاروالی د تنظیف مدیریت له لوري هره ورځ ترسره کیږي؛ ترڅو نیالګي له وچوالي وژغورل شي او شنې ساحې پراختیا پیدا کړي.

**کمیته نظم و توسعه کمیسیون نظم و توسعه شهری شـاروالی میمنـه، به‌منظـور تأمین نظم شـهری و جلوگیـری از ازدحام افراد در جاده‌ها و معابر عمومی، پیاده‌روها را از وجود اموال مزاحم دکانداران و دسـت فروشان باز کردند؛ در جریان این برنامه، پیاده‌روهای جاده هرات و کوچه‌های فرعی آن پاک‌سـازی شـده است.**




فاریاب ۲۰

## جلال اباد ښــار اوومه ناحیه کې د ۱۱،۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د سړک او ویالو جوړولو کارونه پیل شول


ننګرهار ۲۱

د جلال اباد ښــاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS مؤسســې په تخنیکي همکارۍ د اوومې ناحیــې په ۲۲ ګذر کې د ۱۱۸۰ مترو په اوږدوالي، د ۵ مترو په پلنوالي د سړک او ویالو جوړولو کارونه پیل شول.

د جلال اباد ښاروالۍ د ساختمان امر انجنیر شوکت شاکر، د ناحیــې انجنیرانو او ورسره مل پلاوي د پــروژې له کارونو له نږدې لیدنه وکړه او د شرکت مســؤولینو ته یې د چارو د ښه والي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

په یاده پروژه کې د ســیمې ۸۶ تنــه کاریګر کار کوي ۱۱،۲ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي چې د نړیوال بانک له لورې ورکول کېږي. دغه پروژه به په راتلونکي څلورو میاشــتو کې بشپړه شي.

د سیمې اوســېدونکو د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یادې پروژې په ترسره کولو خوښي ښودوه او په راتلونکي کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهاله کاري فرصتونو او لومړنیو خدمتونو وړاندې کول او د داخلي بې ځایه شویو او له ګاونډیو هېوادونو څخه راستانه شویو کډوالو لپاره د کار کولو زمینه برابرول دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو مؤسســو په مرســته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

## آماده‌ســازی یک کیلومتر گلدان برای غرس گل‌های زینتی در چاریکار


پروان ۲۲

مدیریت تنظیف و سرسبزی شــاروالی چاریکار ولایت پروان در نواحی سوم و چهارم شهری حدود یک کیلومتر گلدان را خاک اندازی و برای کشت گل‌های زینتی آماده نموده است.

این گلدان‌هــا در امتداد جاده تازه کانکریت ریزی‌شــده و در نزدیکی نهر پروژه موقعیت دارند که پس از آماده‌سازی، گل‌های زینتی و درختان در آن غرس خواهند شد.

## د لښکرګاه ښــاروالۍ د ولسوالیو د ښاروالانو لپاره د ولایتي شبکې جوړولو په موخه غونډه ترسره کړه



هلمند ۲۳

د لښکرګاه ښــاروالۍ له لوري د هلمند ستار هوټل د غونډو په تالار کې د ښاروال حافظ صدیق صاحب په هدایت او مشرۍ د دې ولایت د ولسوالیو د ښاروالانو لپاره د شبکې جوړولو په موخه غونډه جوړه شوه.

غونډه کې د هلمند ولایت مرســتیال والي مولوي محمد نبي حماس، لښــکرګاه ښــاروال حافظ صدیق ترڅنګ د ښاروالۍ مرســتیال ملا نیک محمد امتي، محب حاجي د مشورتي بورډ مرستیال عبدالولي دراني او د یاد بورډ غړو، د ولسوالیو ښاروالانو، د ښاروالۍ امرینو او مدیرانو ګډون درلود.

همدارنګه، مرســتیال والي حماس مولــوي صاحب د اسلامي امارت پر لاسته راوړنو او ارزښــتونو خبرې وکړې او د لښکرګاه ښــاروال حافظ صدیق صاحب د ښــاروالۍ اړوند هڅې یې ستایلو وړ وبللې ده وویل: د اسلامي نظام د بریا راز د مسؤولینو زیار او کوښښ کول دي، ټولو مسؤولینو او کارکوونکو ته یې د لا ښه کارونو د اجراء په اړه سپارښتنې وکړې.

## چندین مسیر مهم شهری از سوی بخش مربوطه شاروالی هرات داغ‌گیری شد


هرات ۲۴

شاروالی هرات چندین مسیر مهم و پر تردد شهری را با استفاده از امکانات تخنیکی و ماشینری موجود این اداره، داغگیری و ترمیم کرده است.

بر اساس معلومات ارائه‌شده از سوی مسئولان بخش مربوطه، سرک ۶۴ متره، تانک مرکز، جاده‌بدیل منارها، لیسه مهری، شهرنو، درب ملک و شماری از مسیرهای دیگر تا کنون داغ‌گیری شده‌اند.

گفتنی‌ســت این روند به‌گونه تدریجی در سایر نواحی شهری نیز ادامه خواهد یافت تا تمامی سرک‌های آسیب‌دیده تحت پوشش قرار گیرد.

## د ښرنې ښاروالۍ له لوري د څه باندې ۱۶ میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو پروژو پرانیسته وشوه


پکتیکا ۲۵

د ښرنې ښاروالۍ ریاست له لوري د څه باندې ۱۶ میلیونه افغانیو په ارزښــت د دوو پروژو د پرانیستې مراسم ترسره شول، چې په دغو مراســمو کې د پکتیکا مرســتیال والي مولــوي مخدوم عبدالسلام سعادت، ښرنې ښــاروال مولوي سرداروليٰ ثابت، د مختلفو ادارو مسؤولینو، بازار اتحادیې او ښاریانو برخه درلوده.

مراسمو ته د خبرو پر مهال ښرنې ښاروال مولوي سردارولي ثابت وویل، یادې دوه پروژې، چې یوه یې د ملکي روغتون په سرک د ۶۰۰ متر مربــع په اندازه د یوه ګلدان کټاره بندي، د کربونو اساسي جوړونه، د چمن او بوټو لپاره د مناسبې خاورې پرانه او چمن کاري ده، چې د دې پروژې مجموعي لګښت شاوخوا یو میلیون، درې سوه پنځوس زره (۱۳۵۰۰۰۰) افغانۍ کېږي او د ښرنې ښاروالۍ له داخلي بودجې څخه ورکول کېږي.

همدارنګه نوموړي وویل، دویمــه پروژه د ۱۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د کټواز په مسیر یو سړک دی، چې ۵۰۰ متره اوږدوالی، ۴۰ متره پلنوالی، دواړو طرفونو ته د ۱۰۰۰ متره په اندازه ویاله او په منځ کې د ۳ متره په اندازه یو ګلدان لري. نوموړي وویل، د یاد ســړک ابتدايي چارې به خپله د ښــاروالۍ ریاست د وسایلو او وسایطو په واسطه سرته رسېږي او د اساسي پخولو لپاره به یې د کومکي پنډ ترلاســه کولو او یا د ښــاروالۍ ریاســت د پخوانیو مقروضاتو راټولو په صورت کې تصمیم ونیول شي.

## ترمیم چراغ‌های تزئینی سرک حلقوی مزارشریف آغاز شد


بلخ ۲۶

به منظور بهبود روشنایی شبانه، زیبایی شهری و تأمین امنیت بهتر، به هدایت حافظ عبدالرحمن همت شــاروال مــزار شریف، روند بازسازی شیت‌ها و چراغ‌های تزئینی از چهار راهی فردوسی تا چهار راهی برکت آغاز گردید.

این پروژه شامل حفظ و مراقبت دوامدار از پایه‌های تنویر و چراغ‌های تزئینی سرک‌های عمومی و فرعی شــهر بوده و از سوی شاروالی تطبیق می‌گردد.

مسؤول پروژه تعهد نمود تا از خرابی تجهیزات جلوگیری و مراقبت دوامدار نماید.

محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از جریان قیر ریزی و اسفالت فاز دوم سرک امارت در ناحیه ششم نظارت کرده، بر کیفیت کار تأکید ورزید و برای شرکت قرار دادی هدایت‌های لازم ارائه نمود.
همچنان از آبیاری درختان و گلدان‌های شهری بازدید به‌عمل آمد و بر حفظ سرسبزی و مراقبت جدی از فضای سبز توصیه صورت گرفت.



بلخ ۲۷

به‌منظور تحکیم نظم شهری، شاروالی مزارشریف اقدام به پاک‌سازی پیاده‌روهای ناحیه ششم از غرفه ها و کراچی‌های خودسر نمود.
استاد محمد جاوید مایار رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزار شریف، طی بازدیدی بر ضرورت رعایت فرهنگ شهر نشینی تأکید کرد و به غرفه داران هدایت داد تا پیاده‌روها را تخلیه کنند. دکانداران نیز تعهد سپردند که مانع رفت و آمد شهروندان نشوند.



بلخ ۲۸

بخش تنظیف شاروالی پلخمری ولایت بغلان با همکاری وسایط ماشینری و نیروهای بشری، اقدام به جمع‌آوری و انتقال زباله‌ها و ضایعات پلاستیکی از جویچه‌های لین قشلاق و اطراف هوتل صدف نمودند.
این عملیات، روز سه‌شنبه ۲۴ سرطان در مربوطات ناحیه دوم شهر پلخمری با موفقیت اجرا گردید.



بغلان ۲۹

## کار ساخت کوچه ششم دشت شور در ناحیه نهم شهر مزارشریف جریان دارد



بلخ ۳۰

کار ساخت کوچه ششم دشت شور برای انکشاف و توسعه شهر از سوی شاروالی مزارشریف و به حمایت مالی دفتر خدمات پروژوی سازمان ملل متحد در ناحیه نهم شهر مزارشریف جریان دارد.

این پروژه شامل جغل اندازی، ساخت کانال ها به طول ۸۵۰ متر و ساخت ۴ پلچک معیاری می باشد، که کار آن در مدت سه ماه کاری تکمیل خواهد شد.

همچنان کوچه مذکور ۴۲۵ متر طول و ۱۰ متر عرض دارد که در این پروژه روزانه برای ۱۲۰ تن زمینه کار فراهم شده است. با ساخت کوچه متذکره تسهیلات بیشتر در رفت و آمد وسایط نقلیه و شهروندان فراهم خواهد شد.

## رئیس سکتوری شاروالی مزارشریف از جریان کار چندین پروژۀ انکشافی نظارت نمود




بلخ ۳۱

استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری شاروالی مزارشریف و مدیر عمومی زیر بناهای شاروالی با تیم نظارتی انجنیران شاروالی مزارشریف از جریان کار جویچه های سرک کفایت الی گذشته از سرک حلقوی، کار سرک عقب باغ زنانه که از جمله پنج سرک می باشد و کار باسازی چوک کمال نبی زاده نظارت نمودند.

آقای مایار برای مسؤولین پروژه های نامبرده گفت که باید هرچه عاجل کار این پروژه ها را با مراعات معیارهای آن به اتمام رسانده و آنرا به‌بهره‌برداری بسپارند.

از سوی هم نامبرده از جریان کار چوک فردوسی نیز نظارت نمود و در رابطه به کیفیت کاری آن گفت که کارهای شهر به وجه احسن آن به پیش برده شود .

## کمیسیون منع احتکار و کنترول قیمت ها از بازار ده باباعلی شهر محمودراقی نظارت و کنترول کرد




کاپیسا ۳۲

به منظور جلوگیری از گران فروشی، فروش مواد بی‌کیفیت و تأمین حفظ‌الصحه محیط، کمیسیون منع احتکار و کنترول قیمت‌های شاروالی محمودراقی از بازار ده باباعلی شهر محمودراقی نظارت و بررسی همه جانبه به عمل آورد.

در این برنامه نظارتی، نمایندگان ریاست های صنعت و تجارت، شاروالی محمودراقی، استخبارات، صحت عامه، زراعت و نفت و گاز حضور داشتند.

در جریان این بازدید بخش های مختلف بازار از جمله تیل فروشی ها، فروشگاه های مواد غذایی و خبازی ها مورد بررسی دقیق قرار گرفت. در کنار ارزیابی توجه ویژه به کیفیت مواد، نحوه عرضه و رعایت اصول بهداشتی نیز صورت گرفت.

هدف از این اقدام تأمین شفافیت در روند فروش، جلوگیری از سوء استفاده و تخطی های اقتصادی و ارتقای سطح خدمات بازار بر اساس معیارهای قانونی و اصول حفظ‌الصحه می‌باشد.

مسؤلین شاروالی تأکید می‌نماید که اینگونه اقدامات نظارتی به گونه دوامدار و منظم ادامه خواهد یافت تا از حقوق شهروندان حمایت شده و ثبات و عدالت اقتصادی در بازار تأمین گردد.

## د گرشک ښار د پاکولو او کثافاتو د لېږدولو چاري جريان لري




هلمند ۳۳

د گرشک ښاروالي د تنظيف او سرسبزی مدیریت د پرسونل له لوري د ښار د ښکلا او پاک چاپېريال رامنځته کولو په موخه، د ښار په بېلابېلو برخو کې کثافات راټول او ټاکل شوي ځای ته انتقال شوه.

په همدې جريان کې هره ورځ لسګونه متره مکعبه کثافات د گرشک ښار له بېلابېلو سيمو څخه راټولېږي او ټاکل شوي ځای ته انتقالېږي ترڅو مو ښار له ميکروبونو او چټليو څخه پاک او یو منظم چاپېريال ولرو.

**گرانو ښاريانو!**

د ښار په عمومي سړکونو او لښتيو کې د کثافاتو، خاورو او ځځلو د غورځولو څخه ډډه وکړئ، ځکه د لښتيو او کانالونو بنديدل مو ښار چټلوي او د ښاريانو د اذيت سبب ګرځي.

## د غزني ښاروالۍ ریاست له لوري د ښار لومړۍ او پنځمه ناحیه کې ۳ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې


غزني ۳۴

د ښاري پرمختګ او خدمتونو د پراخېدو په لړ کې د غزني ښاروالۍ ریاست او ملګرو ملتونو د پروژو خدمتونو دفتر په مالي همکارۍ د ښار په لومړۍ او پنځمه ناحیه کې درې د سرک جوړونې پروژې بشپړې کړې او رسماً یې د خلکو پرمخ پرانیستې.

یادې پروژې چې د پښتون آباد او خشکه سیمو په داخل کې تطبیق شوې ټولټال ۱۸۰۰ متره اوږدوالی لري او د ۲۴ میلیونه افغانیو په ارزښت جوړې شوي دي.

د دغو سرکونو جوړېدو سره د یادو سیمو اوسېدونکو ته د تګ راتګ اساسي ستونزې له منځه لاړې او ښاري ترافیک ته یې پراخې آسانتیاوې برابرې کړې.

د غزني ښاروالۍ سکتورې او مسلکي آمر د پروژې د پای ته رسېدو په مراسمو کې ووېل د دغو سرکونو له بشپړېدو سره نه یوازې ښاري تګ راتګ معیاري شو بلکې ۳۰۰ تنو کارګرانو ته د کار زمینه هم برابره شوې وه چې دا خپله د اقتصادي پیاوړتیا یوه ښه بېلګه ده.

په همدې حال کې د ګذر وکیل ملتان چې له خپلو خلکو سره یې تل د ښاري خدمتونو په برخه کې هڅې کړې، ووېل زموږ د خلکو کلونه کلونه غوښتنه دا وه چې د دې سیمو سرکونه جوړ شي.

د غزني ښاروالۍ مسؤولین وایي چې د ښار د هرې ناحیې اړتیاوې په پلان کې شاملې دي او ژمن دي چې د ښاري خدمتونو د لا پراخوالي لپاره به خپلې هڅې لا زیاتې کړې.

## فراه کې د ښاري نظم او پراختیا کمیټې ناسته ترسره شوه

فراه کې د مرستیال والي مولوي رحیم الله محمود، سیمه ییزې ادارې د رئیسانو او استازو په ګډون د ښاري نظم او پراختیا کمیټې ناسته ترسره شوه.

د فراه مرستیال والي مولوي رحیم الله محمود په دغه ولایت کې د ښاري نظم او پراختیا په برخه کې د اړوندو ادارو مکلفیتونه ته په کتو سره ووېل؛ چې په دې برخه کې د ښاروالۍ، کور او ښار جوړولو ریاستونو رول اړین دی او یادې ادارې باید د نورو ادارو په همکارۍ په ټینګه توګه ورته پاملرنه وکړي.

په ورته وخت کې د فراه ښاروال مفتي سردار محمد مرصاد بیا د ښاري نظم موخه د خلکو لپاره اسانتیا رامنځته کول وباله او زیاته یې کړه، چې ښاري نظم له سیمه ییزې اداري سره د ولسي وګړو د همغږۍ له لارې رامنځته کېږي.

باید ووېل شي، په فراه کې سیمه ییزه اداره تل هڅه کوي، چې په دغه ولایت کې له قانون سره سم ښاري نظم او مقررات رامنځته کړي.

فراه ۳۵

**کار جغل اندازی پروژه احداث ۷ کیلومتر سرک حلقوی شهر سرپل در ناحیه سوم این شهر به هزینه ۴ میلیون و ششصد هزار افغانی از عواید داخلی این اداره تکمیل گردیده است.**

سرپل ۳۶

## ګردېز ښار میرزکي او سیدکرم لین سرک د اسفالټو ښندر طبقې چارې پیل شوې


پکتیا ۳۷

دغه سرک چې د ګردېز ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه جوړېږي، (۷۷۷) متره اوږدوالی او (۲۰) متره پلنوالی لري، چې په جوړېدو چارې یې په چټکۍ سره روانې دي.

پر یاد سرک، همدا مهال د اسفالټو ښندر طبقې اچولو چارې روانې دي، چې کارونه به یې نږدې موده کې بشپړ او ډېر ژر به د خلکو تګ او راتګ لپاره پرانېستل شي.

دغه سرک د ښار مرکزي برخه کې له مهمو سرکونو ګڼل کیږي، چې په جوړېدو سره به یې د ښار پراختیا، پانګونې، ښاري نظم او ښکلا ته زمینه برابره شي.

## ګردېز ښار غزني لین له هټیو څخه تاریخ تېر توکي راټول شول


پکتیا ۳۸

د پکتیا ولایت د صنعت او سوداګرۍ ریاست تر مشرۍ لاندې، ګردېز ښاروالۍ او ځینو نورو ولایتي ادارو ګډې کمیټې؛ د تاریخ تېرو، بې کیفیته او تقلبي توکو د واردولو څخه د مخنیوي کمیسیون د ګردېز ښار غزني لین له هټیو څخه څارنه تر سره کړه.

دې پلټنو په لړ کې اوه ویشت قلمه بېلابېل خوراکي او غیر خوراکي تاریخ تېر او بې کیفیته توکي راټول کړل، چې په یادو توکو کې (۱۰) کارټنه ملايي، زیتون تېل، چاکلېټ، اچار، پیریني، اوړه، پنیر، ایراني مستې، مڼې جوس، سرکه، دېګ مساله، غیر الکولي مشروبات او داسې نور خوراکي او غیر خوراکي توکي شامل دي.

**کارکنان مدیریت تنظیف و سرسبزی شاروالی ولسوالی محمد آغه ولایت لوګر، امروز پیاده روهای بازار واغجان را تنظیم و پاک کاری کرد.**


لوګر ۳۹

## ریله های سیار در داخل شهر سرپل تنظیم و ترتیب گردید


سرپل ۴۰

به منظور تنظیم هرچه بهتر ریله‌های سیار و جلوگیری از مسدود شدن سرک های عمومی، مدیریت عمومی حکومتداری شهری ریاست شاروالی شهر سرپل طی یک برنامه منظم اقدام به جمع‌آوری و تنظیم ریله‌های سیار از مسیرهای عمومی شهر نموده است.

همچنان، به منظور حمایت از ریله‌داران و تسهیل در امر کسب و کار آنان، سهولت‌ها و رهنمایی‌های لازم در محل مناسب برای ادامه فعالیت‌های شان فراهم گردیده است.

این اقدام در راستای تأمین نظم شهری، سهولت در رفت و آمد وسایط و بهبود نمای شهری روی دست گرفته شده و ریاست شاروالی شهر سرپل متعهد است که به روند اصلاحات شهری و رسیدگی به مشکلات اصناف و شهروندان گرامی، همچنان ادامه دهد.

**شاروالی شکردره ولایت کابل دو شرکت ذوب آهن و یک تانک تیل را ثبت و سروی نمودند و کارکنان تنظیف و سرسبزی به منظور حفظ زیبایی محیط زیست شهری، تقویت سرسبزی و بهبود فضای زندگی شهروندان، زباله های تانک های تیل مربوطات این ولسوالی را جمع‌آوری و به مکان مناسب آن انتقال دادند.**



شکردره/کابل ۴۱

## د شهید یادګاري منار د جوړېدو په موخه د جهادي ارزښتونو مسؤول د ترینکوټ ښاروال سره ولیدل




د روزګان ولایت د جهادي ارزښـتونو مسؤول مولوي نعمت اللـه نعماني، د یاد ولایت د ښـاروالۍ ریاسـت له رئیس مولوي عبدالرشـید هدایت‌الله سره یوه رسمي لیدنه وکړه.

پـه دې لیدنه کې دواړو لوریو د شـهید یـادګاري منار د جوړېدو او یو شـمېر نورو اړونـدو موضوعاتو په اړه مفصل بحث وکړ.

د ناسـتې په ترڅ کې د ښاروالۍ ریاست د عمومي پلانونو له مخې، یو ځلورلارې ځای د منار لپاره مناسب وګڼل شو.

ټاکل شـوې ده چې یاد منار بـه د روزګان ولایت په مرکز ترینکوټ کې، د کندهار پر عمومي جاده، میدان‌هوايي ته څېرمه جوړ شي.

دا منـار به د روزګان ولایت د یوه نومیالي، شـهید شـوي مجاهد په نوم ونومـول شي او د هغه د جهادي مبارزې د یادګار پـه توګه به د منار پر بدنـه د نوموړي کارنامې هم ولیکل شي.

د یاد منار د جوړېدو مالي لګښـتونه به د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لارې مخته یوړل شي.

د ناستې په پای کې دواړو لوریو یو بل ته د لازمي همکارۍ ډاډ ورکـړ او ټینګار یـې وکړ چې دا پروژه بـه د جهادي ارزښتونو د ساتنې او د شـهیدانو د یاد ژوندي ساتلو لپاره یو مهم ګام وي.

## د ښرنې ښار د ښاري نظم ټینګښت په دوام




د ښرنې ښاروالۍ ریاست د ښاري نظم ټینګښت کمېټې له لوري ښـار کې د پلو لارو، سـړکونو او خدماتي سـاحو د خلاصون اقدامات ترسره شول.

د دغـو اقداماتو په ترڅ کې د کتواز په مسـیر د بیروبار د کنټرول او خلکو ته د تګ راتګ اسـانتیاوو رامنځته کولو په هدف د سړک له حریم څخه لاسي کراچۍ او توکي انتقال شول. دغه راز په یاد مسـیر د سبزي منډیې په ساحه کې د تګ راتګ لاره خلاصه شـوه او د سرغړونکو توکي انتقال شول.

د ښرنې ښـاروالۍ ریاست د ښـاري نظم ټینګښت کمیټه هره اوونۍ ښار کې د پلو لارو، سړکونو او خدماتي ساحو د خلاصولو اقدامات ترسره کوي، چې هدف یې د ښاري نظم تأمین او په دې برخه کې ښاریانو ته د تګ راتګ اسانتیاوو رامنځته کول دي.

## د ګردیز ښار حسنکی او سرسنګ سیمې کانکریټي سړکونو چارې مخ په بشپړېدو دي




د ګردیز ښـار ثلورمې ناحیې اړوند، حسنکۍ او سرسنګ سیمې کلیوالي کانکریټي سـړکونو د جوړولو چارې د ګردیز ښاروالۍ تر بشـپړې ثارنې لاندې د ملګرو ملتونو دفتر یونپس په مالي ملاتړ روانـې دي او تر راتلونکو ثو ورثو به په معیاري او اسـتندرډ ډول بشپړې شي.

د همدې سیمې دغه کلیوالي سـړکونه (۱۰۱۰) متره اوږدوالی او بېلابېل پلنوالی لري، چې پروژې د کاربهیر له تخنیکي معیارونو سره سـم پر مخ روان دي او هڅه کېږي چې دا پروژه په معیاري بڼه تر ټاکلي وخت بشپړه شي.

د سیمې اوسیدونکي د دغې پروژې په غوره پلي کیدو خوشاله دي او وایي د تېر په توپیر یې تګ او راتګ په برخه کې زیاتې اسانتیاوې را منځته شوې دي.

## برنامه آموزشـی بـرای شـاروالان و کارمندان شـاروالی ولسوالی‌های کابل، کاپیسا و پنجشیر در چاریکار برگزار شد




شاروالی شهر چاریکار میزبان برنامه آموزشی سه‌روزه‌ای گردید که به هدف ارتقای ظرفیت شاروالان و کارمندان شاروالی‌های ولسوالی های ولایات کابل، پروان، پنجشیر و کاپیسا برگزار گردید.

این برنامه به ابتکار ریاست عمومی انسجام امور شاروالی‌ها در تالار جلسات شاروالی چاریکار آغاز شد و قرار است طی شش روز آموزش های تخصصی در بخش‌های مختلـف اداری، تخنیکی، عواید، حکومت داری و مالی برای اشتراک کنندگان معلومات ارائه گردد.

در مراسم افتتاحیه، حافظ راز محمد یاسر، شاروال چاریکار ضمن خوش‌آمدگویی به مهمانان، بر اهمیت دانش در امور کاری تأکید کرد و آنرا یکی از اصول اساسـی در شریعت اسلامی دانست. وی افزود که فراگیری دانش مقدم بر اجرای وظیفه است و بدون آگاهی نمی‌توان خدمت شایسته انجام داد.

مولوی عبدالصمد عمری، رئیس تفتیش داخلی بر انجام امور طبق قانون و پالیسی‌های اداری نظام تأکید نمود و این برنامه را گامی مؤثر در جهت ارتقای ظرفیت مسؤولین شهری خواند.

## جلسـه ربع اول سـال ۱۴۰۴ شبکه شـاروالی‌های ولایت فاریاب برگزار شد




جلسه ربع اول سـال ۱۴۰۴ شبکه شاروالی‌های ولایت فاریاب با اشتراک اعضای شبکه و نماینده مقام ولایت فاریاب، تحت ریاست الحاج مفتی گل‌احمد مبشر، شاروال شهر میمنه در مقر شاروالی ولسوالی المار برگزار گردید.

شاروال شهر میمنه ضمن خوش‌آمدید و ابراز قدردانی از حضور فعال اشتراک کنندگان، بر اهمیت و ضرورت اطاعت از اوامر آمرین مافوق در امور کاری تأکید ورزید.

شـاروال میمنه، همچنین بر تدویر منظم جلسات در بخش‌های متنوع با اقشار مختلف جامعه پیرامون مسایل شهری تأکید نمود و بیان داشـت تا در زمینه‌های جمع‌آوری عواید و افزایش میزان آن، تطبیق مؤثر پلان‌های کاری، تأمین نظم و انسجام شهری، حفظ پاکیزگی محیط، گسترش ساحات سبز، رفع انسداد پیاده‌روها از وجود اموال مزاحم، تسریع در روند تطبیق پروژه‌های انکشـافی و زیربنایی تلاش صورت گیرد.

در ادامه جلسه، طبق آجندای از پیش تعیین‌شده هر یک از اعضای شبکه به نوبه خود گزارش مفصلی از فعالیت‌ها، دستاوردها و چالش های ربع اول سال مالی ۱۴۰۴ در ساحات مربوطه شاروالی خویش را ارائه کردند.

هدف از برگزاری جلسات شبکه شاروالی ها تقویت همکاری متقابل میان شاروالی ها، تحکیم روابط کاری، هماهنگی بیشتر شاروالی مرکز و ولسوالی‌ها، شریک‌سازی تجارب، بررسی دستاوردها و چالش ها و جستجوی راه‌حل‌های مؤثر برای رفع مشکلات موجود بود.

**وزن نان در شـهر فیروزکوه ولایـت غور از جانب کمیته موظف شاروالی این ولایت به هدف کنترول قیمت‌ها به‌گونه منظم انجام می‌پذیرد، تا از رعایت معیارها توسط نانوایان اطمینان حاصل گردد.**



## غزني ښـار د خلورمې ناحیې مدیر د اربابا صاحب په سیمه کې له دربیمې پرمختیایي پروژې څخه څارنه وکړه



غزني ۴۸

د غزني ښاروالی د خلورمې ناحیې مدیر رحمت‌الله منصور د اربابا صاحب اړوند سـیمه کې د یوې مهمې پرمختیایي پروژې د تطبیق بهیر له نږدې وڅاره.

یاده پروژه چې د سیمه‌ییزو ستونزو د حل، ښاري خدمتونو د پراخوالي او د چاپېریال د سـمون په موخه پیل شوې دا مهال په تطبیق کې ده او کارونه یې دوام لري.

نوموړي د لیدنې پر مهال د کار د کیفیت فزیکي پرمختګ د مـوادو د کیفیت او د کارکوونکـو د حاضرۍ وضعیت له نږدې وڅېړه.

د ناحیې مدیر له مســؤولینو سره د پــروژې پر تخنیکي او اداري جزییاتــو خبرې وکړې څینې لازمي لارښــوونې یې ورکــړې او ټینګار یــې وکړ چــې باید پروژه د مشــخصو تخنیکــي معیارونو او مهالویش پر بنسـټ شــفافه او بې ستونزو تطبیق شي.

ښاغلي منصور وویل چې موږ د ښاري خدمتونو د پراخوالي لپاره ژمن یو او د هرې پروژې کیفیت ته جدي پاملرنه کوو.

د اربابــا صاحب پروژه د خلکو د غوښــتنو پر بنسـټ پیل شوې او د بشــپړېدو وروسته به یې اوســېدونکي له مهمو اسانتیاوو برخمن شي.

نوموړي لــه خلکو هم وغوښــتل چې د پروژې د شــفاف تطبیق په برخه کې له ښــاروالۍ سره همکاري وکړي او که ســتونزه یا نظر لري د ناحیې له دفتر سره یې شریک کړي.

## تورخم او ګردي بازار د ســرکونو ترمنځ ګلدانونو او پارکونو خړوبول



ننګرهار ۴۹

تورخم ښــاروالی د سرسبزۍ مدیریت له خــوا د تورخم ښارګوټي د ښــکلا او شــنه چاپېریال د خوندي ساتلو په موخــه، د تورخم او ګردي بازار ترمنځ د ســرکونو په اوږدو کې ګلدانونو، د ســرک غاړو نیالګیو او پارکونو د خړوبونې مهم او ارزښتناک فعالیت ترسره شو.

یاد فعالیت د ښــاروالۍ اړونــدو ټیمونو له خوا د دریو (۳) ټانکرونو په مرسته ترسره شــو، چې د ورځې په اوږدو کې یې شــاوخوا ټول موجود بوټــي، نیالګــي او زینتي ګلونه خړوب کړل.

د ښــار د سرسبزۍ ســاتنه او پراختیا د چاپېریال ښکلا ته وده ورکــول، د ګلانــو او نیالګیو ژوندي ســاتل، په ګرمو موسمونو کې د ښــارګوټي فضا ښایسته ســاتل او د عامو خلکو د ذهني ارامۍ لپاره د ښــاروالۍ مسؤولین ژمن دي چې د دغــو فعالیتونو لــړۍ به لا هم پراخــه او دوامداره وساتي.

## برگزاری دور پنجم جلســه شبکه شــاروالی‌های بغلان در ولسوالی برکه




بغلان ۵۰

پنجمین جلسه دورانی شبکه شــاروالی‌های ولایت بغلان با حضور شــاروال برکــه، ولســوال، قومانــدان امنیــه، آمر حکومتداری شاروالی پلخمری، شاروالان، علماء، متنفذین و رسانه‌ها در برکه برگزار شد. جلسه با تلاوت قرآن آغاز گردید و ســخنرانان با بیان دیدگاه‌ها و توصیه‌های خویش پرداختند. شــاروالان نیز گزارش کارکردها و پیشــنهادات خود را ارائه کردند و جلسه با دعای خیر پایان یافت.

## د کندهار ښــار په اوومــه ناحیه کې د یوه فرعي ســرک جوړولو چارې په دوه فازه کې په اساسي ډول پیل شوې



کندهار ۵۱

کندهار ښاروالۍ د خپلو انکشافي فعالیتونو په دوام، داخل د ښار په اوومه ناحیه کې د یوه مهم فرعي سړک د اساسي رغونې چارې پیل کړې دي. دا سړک چې د هرات عمومي سړک او د پنجوایي دوراهي عمومي سړک سره وصل کوي، ټولټال ۱۱۱۵ متره اوږدوالی لري او رغنیزې چارې یې په دوه فازه کې پر مخ وړل کیږي.

دا د یاد سړک لومړی فاز دی، چې د اوومې ناحیې د اووم ګذر اړوند دی. دا مهال یې د کندن کاري چارې روانې دي.

د دې لومړي برخې اوږدوالی شــاوخوا ۶۱۰ متره او پلنوالی یې ۸ متره دی. رغنیزې چارې یې پنځه ورځې مخکې پیل شوې دي او پاتې کارونه به یې د ۳ میاشتو په موده کې بشپړ شي.

د دې انکشافي پروژې په لومړي فاز کې اوس مهال ۴۰ کسانو ته د کار کولو زمینه برابره شوې ده.

د همدې فرعي سړک په جوړېدو سره د سیمې خلکو زیاته خوښي ښوودې او د کندهار ښاروالۍ څخه یې ځانګړې منته وکړه.

## ګرشــک ښــار د مارکیټونو تنظیم مدیریت د ښــار د اصنافو وکیلانو سره د ښاري نظم ټینګښت په موخه مجلس ترسر کړ




هلمند ۵۲

د ګرشک ښاروالۍ د مارکیټونو تنظیم مدیریت د ښار د اصنافو له وکیلانو سره د ښــاري نظم ټینګښت او همغږۍ په موخه مجلس ترسره کړ.

یاد مجلس کې د ښاري نظم راوستلو په تړاو هر اړخیز بحثونه وشول او ټینګار وشو، چې د مارکیټونو تنظیم مدیریت به په لنډ وخت کې یو منظم طرحه جوړه کړي.

د دې طرحې له مخې پلان شوی ده، چې په هره اونۍ کې یوه ورځ د اصنافو وکیلان د یاد مدیریت له مسؤول کس سره په ټاکلي ساحه کې یوځای نظارت وکړي او د ښــاري نظم د تأمین په موخه ترسره کېدونکو مجلسونو کې فعاله ونډه واخلي.

د دې طرحې له پلي کېدو سره به د ښار اصنافو ته یو منظم چوکاټ رامنځته شي، عامه لارې به د خلکــو پرمخ خلاصې شي او ګڼې ښاري اسانتیاوې به برابرې شي.

همدارنګه، د ښاري نظم مسؤولینو هغه اصنافو وکیلان هم وستایل، چې د ښاري نظم په ټینګښت کې یې خپلې هڅې کړې وې او د اړوندو موضوعاتو د حل لپاره یې په مجلسونو کې ونډه اخیستې وه.

## جلسه بورد مشورتی شاروالی مزارشریف دایر گردید



بلخ ۵۳

جلســه بورد مشــورتی شــاروالی مزارشریف به سرپرستی حافظ عبدالرحمن همت، شــاروال مزارشریف دایر گردید که در آن مولوی محمد نسیم عابد معاون شاروالی، حاجی قدرت‌الله ســیغانی معاون شورای مشورتی، منشی شورای مشــورتی، امر مجالس و شــورا های شــاروالی و روئسای شورای مشورتی نواحی دوازده گانه شهر حضور داشتند.

حافظ عبدالرحمــن همت، شــاروال مزارشریف حاضرین مجلــس را خــوش آمدید گفــت و در رابطه بــه کارکرد و فعالیت های شــاروالی مزارشریف در سال جاری معلومات مفصل ارائه نمود. آقای همت افزود: شــاروالی مزارشریف در نظر دارد برای پیشرفت و توســعه معیاری شــهر، پروژه های بیشتر را در ســطح شهر جهت تغییر مثبت در چهره و آبادی شهر تطبیق نماید.

از ســوی دیگر پروفیســور داکتر عبدالوکیل متین، رئیس شــورای مشــورتی ناحیه ســوم به نمایندگی از روئسای شورای مشورتی نواحی دوازده گانه شهر صحبت نموده و از کارکردها و فعالیت های شــاروالی مزارشریف در راستای شگوفایی و آبادی شهر مزارشریف قدردانی کرد.

## جلسه معلوماتی فعالیت های انجام شده ربع اول سال ۱۴۰۴ شاروالی قلعه نو بادغیس برگزار گردید




بادغیس ۵۴

جلسه معلوماتی فعالیت های انجام شده ربع اول سال ۱۴۰۴ شاروالی قلعه نو، با حضورداشت ریس دفتر وسرپرست مقام ولایت بادغیس روئسای ادارت دولتی، اعضای بوردمشورتی،وکلای گذر، علما کرام، اصناف شهری، رسانه ها ومتنفذین دایر گردید.

این جلسه با تلاوت قرآنکریم آغاز گردید و پس از آن ملارازمحمد ذاکر شاروال قلعه نو در مورد فعالیت ها و دستآوردهای بخش های مختلف این اداره به اشتراک کنندگان معلومات داد.

از جانب دیگر، مدیریت های مربوطه از بخش های مختلف بشمول عواید ، تطبیق پروژه های تخنیکی ، بخش حکومتداری ، تنظیف وسرسبزی معلومات عمومی را توسط پریزیتشن به حاضرین جلسه توضیح دادند.

جلسه با پاسخ به سوالات اشتراک کنندگان توسط مسؤولان شاروالی قلعه نو و دعای خیر به پایان رسید.

## مرحله اول پروژه ترمیم و داغگیری سرک صیاد الی چوک گلدان توسط شاروالی محمودراقی آغاز گردید



کاپیسا ۵۵

شاروالی محمودراقی در چارچوب برنامه های انکشافی خویش و به منظور خدمت رسانی مؤثر شهری به گونه عملی، کار مرحله اول پروژه ترمیم و داغگیری سرک صیاد الی چوک گلدان را آغاز نمود.

در این مرحله، برش و داغگیری سرک آغاز گردید که زمینه ساز مرحله دوم پروژه مذکور خواهد بود. هدف از این پروژه بهبود وضعیت ترانسپورت شهری، کاهش ازدحام ترافیکی، ارتقای کیفیت جاده‌ها و بهبود نمای شهر می باشد.

با تکمیل این پروژه سهولت های چشمگیری در رفت و آمد روزمره شهروندان به وجود خواهد آمد. مسؤولان شاروالی محمودراقی اطمینان می‌دهند که این پروژه با رعایت معیارهای تخنیکی، نظارت دوامدار و در چارچوب زمان معین به گونه مؤثر عملی خواهد شد.

شاروالی محمودراقی این اقدام را بخشی از تعهدات خود در راستای رشد متوازن شهری، توسعه زیربناها و ایجاد محیطی مصئون و قابل دسترس برای تمام شهروندان میداند.

**شاروالی انجیل ولایت هرات کار اعمار دو پلچک در رباط گذاران گذر دوم مربوط ناحیه سوم این شهر را آغاز کرده است.**

**این پروژه به ارزش ۱۴۵۶۰۰ افغانی از بودجه انکشافی شاروالی انجیل تمویل میگردد که با طول ۷ متر و عرض ۰.۷ متر توسط شرکت بهسازان سفیدروان طی ۲۰ روز انجام می شود.**

**باشندگان محل ضمن استقبال از ساخت این دو پلچک، از تلاش‌های اداره شاروالی انجیل حمایت همه‌جانبه خویش را اعلام نمودند.**



هرات ۵٦

**شاروالی فیروز کوه ولایت غور، کار اعمار تحویلخانه، هنگر وسایط و لندسکیپ دفتر شاروالی را با هزینه (۲۸۰۰۰۰۰ افغانی) از عواید داخلی خویش آغاز نموده است و قرار است با اعمار این تحویلخانه مشکلات ناشی از کمبود جای مناسب برای انبار سازی وسایل شاروالی رفع گردد.**




غور ۵۷

## کار کانکریت ریزی سرک فامیلی های میدان هوایی شهر فیروز کوه افتتاح گردید




غور ۵۸

شاروالی فیروزکوه ولایت غور، کار کانکریت ریزی سرک فامیلی های میدان هوایی این شهر را با حضور داشت والی ولایت، رؤسای ادارات امارتی، اعضای بورد مشورتی، وکلای گذر، نمایندگان رسانه ها و شماری از باشندگان محل افتتاح نموده است.

پروژه کانکریت ریزی سرک فامیلی های میدان هوایی، سرک استخبارات و کوچه گدام به طول مجموعی ۱٫۵ کیلومتر همراه با ساخت ۷ پایه پلچک و ۲۷٦۰ متر جویچه آن با هزینه ۱۲ میلیون ٤۱۱ هزار ۹۳۸ افغانی (۱۲٤۱۱۹۳۸ افغانی) از عواید داخلی شاروالی فیروز کوه اعمار میگردد.

## جلال اباد ښار اوومه ناحیه کې د۶،۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د سړک او ویالو جوړولو د کانکرېټ چارې جریان لري



ننگرهار ۵۹

د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS مؤسسې په تخنیکي همکارۍ د اوومې ناحیې په نهم گذر کې د ٦۹۰ مترو په اوږدوالي، د۵ مترو په پلنوالي د سړک او ویالو جوړولو د کانکرېټ چارې جریان لري.

د جلال اباد ښاروالۍ د ساختمان امر انجنیر شوکت شاکر او ورسره مل پلاوي د پروژې له کارونو له نږدې لیدنه وکړه او د شرکت مسؤولینو ته یې د چارو د ښه والي په موخه لازمي سپارښتنې وکړې.

په یاده پروژه کې د سیمې ۹۰ تنه کارېگر کار کوي. ٦.۷ میلیونه افغانۍ لگښت پرې راځي چې د نړیوال بانک له لوري ورکول کېږي.

یاده پروژه به په نږدې راتلونکې کې گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د سیمې اوسېدونکو د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یادې پروژې په ترسره کولو خوښي وښوده او په راتلونکې کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهاله کاري فرصتونو او لومړنیو خدمتونو وړاندې کول او د داخلي بې ځایه شویو او له گاونډیو هېوادونو څخه راستانه شویو کډوالو لپاره د کار کولو زمینه برابرول دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو مؤسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

**شاروالی سرپل به ارزش دومیلیون پنجصد هزار افغانی از عواید داخلی این اداره، ۱۷۰۰ متر کتاره را در گلدان‌های سرک چوک شهدا الی ریاست حج و اوقاف نصب نموده است.**

سرپل ٦۰

**به ارزش ٦ میلیون ۸۵۰ هزار افغانی از عواید داخلی شاروالی سرپل کار پروژه اعمار طبقه دوم یک بلاک تجارتی و رهایشی در ناحیه دوم این شهر با سرعت جریان دارد.**

سرپل ٦۱

## برنامه آموزشی برای کارکنان شــاروالی‌های ولسوالی‌های کابل، پروان، کاپیسا و پنجشیر برگزار شد




دومیــن روز برنامه آموزشــی برای کارکنــان بخش های تخنیکی و مسلکی و مالی و بودجه شاروالی‌های ولسوالی هــای کابل، پروان، کاپیســا و پنجشــیر در مقر ریاســت شاروالی شهر چاریکار برگزار گردید.

در این برنامه انجنیر نوراکبر زهیر نماینده ریاست تخنیکی و مســلکی و الحاج عبدالــرازق نماینده ریاســت بودجه شاروالی‌ها برای اشتراک کنندگان معلومات ارائه کردند.

در روز گذشــته در این برنامه آموزشــی بــرای بخش‌های نظارت و ارزیابی و حکومتداری شــهری توسط نمایندگان ریاست‌های شان معلومات ارائه گردیده بود.

## محمودراقي ښــار کې د ښاریانو شکایتونو څېړلو په موخه د شکایاتو صندوقونه پرانیستل شول




د شکایتونو څېړلو ســتونزو د حل په موخه یو مهم ګام بلل کېږي د ښاریانو ستونزو ته د رســیدنې په موخه د کاپیسا ولایت محمودراقي ښاروالۍ کارکوونکو د محمودراقي ښار درې ګونو ناحیو کې د شــکایاتو صندوقونه خلاص او پکې موجوده ترلاســه شــوې شــکایات یې د شــکایاتو څېړنې مؤظفې کمېټې ته وسپارل.

همدارنګه د یادونې وړ ده چې د محمودراقي ښــاروالۍ هره میاشت یو ځل د شــکایاتو صندوقونه خلاصوي او تر لاسه شوي شــکایات یې د شــکایاتو څېړنې مؤظفې کمیټې له خوا د ښــاریانو د ســتونزو حل په موخه پــه د قیقه ټوګه څېړل کېږي.

## جلســه نوبتی عوایدی شــاروالی قلعه‌نو ولایت بادغیس برگزار شد

جلســه نوبتی عوایدی شــاروالی قلعه‌نو ولایت بادغیس (پنجشنبه ۲۶ سرطان ۱۴۰۴) برگزار گردید که در آن بر تسریع روند جمع آوری عواید و ارائه گزارشات تأکید صورت گرفت.

در این جلسه مسؤولان بخش‌های عواید مشکلات موجود را مطرح کردند و پیرامون آن راه حل‌هایی را نیز پیشــنهاد نمودند.

بادغیس ۶۴

## شاروالی ولســوالی رســتاق ولایت تخار، گلدانهای داخل این شــهر را جهت مراقبت از گلها، درختان و فضای سبز آبیاری نموده است.




## ګرشک کې د ښارګوټي ښاروالۍ د ځلورم تفصیلي پلان په ساحه کې عام سړک غصب شخه خلاص شو




هلمند ولایت ګرشک ولسوالۍ کې د ځلورم تفصیلي پلان په ساحه کې د لومړي ځلویښت متره سړک څخه د مسترپلانو تر شهرک پورې د کندهار هرات عمومي شهرا سره موازي سړک چې د خلکو لخوا په خودسره ډول غصب شوی و د غصب څخه خلاص شو او همدارنګه یې د ګرشک ښاروالۍ له لوري د لیول کارۍ چارې په چټکۍ سره جریان لري چې ډېر ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## هلمند ولایت ګرشک ولسوالۍ کې د ښاري نظم ګډ کمیسیون له لوري یو شمیر ځمکې د غصب څخه پاکې شوې




د ګرشــک ولسوالۍ د ښــاري نظم ګډ کمیسیون چې د ګرشک ولســوالۍ د مختلفو ادارو لکه ولسوالۍ، قومندانۍ، استخبارات، امربالمعروف، ترافیک او ښاروالۍ له نماینده ګانو څخه ترکیب دی، د ګرشــک ولســوالۍ د ځلورم تفصیلي پلان په ساحه کې عامې کوڅې او رسمي نومرې چې د خلکو لخوا په خودسرانه ډول غصب شوې او تصرفات پرې شوي وو د غصب څخه خلاصې او تصرفات یې له منځه یوړل شول.

## غزني ښــار د حیات اباد ســړک پروژه د ۸ میلیونو افغانیو په ارزښت پیل شوه




دغزني ښار لومړۍ ناحیې اړوند حیات اباد سیمه کې د سړک جوړولو نوې پروژه د غزني ښاروالۍ ریاست او د ملګرو ملتونو د پروژې دفتر په مالي همکارۍ د ۸ میلیونو افغانیو په لګښت پیل شوه.

دغه پروژه چې د شمس العارفین له کلینیک څخه شروع شوې ټول ۶۰۰ متره اوږدوالی او ۶ متره پلنوالی لري او د لښتیو په ګډون د یو معیاري سړک ټول تخنیکي شرایط لري.

د پروژې د تطبیق مسؤول انجنیر جاوید دوراني وایي اوس مهال د سړک د هوارولو خاورو انتقال او بنسټیزو کارونو چارې دوام لري او هڅه کوو چې دا پروژه د ټاکل شــوې درې میاشتې موده کې بشپړه کړو.

دا پروژه به نه یوازې د سړک د وضعیت د ښه والي سبب شي بلکې د سیمې خلکو ته به د تګ راتګ ترانسپورټ او چاپېریالي وضعیت په برخه کې ستري اسانتیاوې رامنځته کړي.

## پل علم ښار د پاکوالي او ښکلا په برخه کې دوامداره هڅې




د پل علم ښاروالۍ له لوري د پل علم ښار د پاکوالي او ښکلا په موخه شپنۍ اشر د پل علم ښاروال مولوي محمد شاکر ثاقب په ځانګړې هدایت سره ترسره شو.

په یاد اشر کې د پل علم ښــاروال مولوي محمد شــاکر ثاقب سربېره، د ښــاروالۍ اداري کارکوونکو او د تنظیف او سرسبزۍ برخې زیارکښه کارکوونکو برخه اخیستې وه.

په دغه اشر کې د پل علم ښــار اړوند رخت مارکېټ ته څېرمه د کابل-ګردیز عمومي ســړک دواړو خواوو لښتیو پاکول او پلو لارو وینځل ترسره شول.

د پل علم ښاروالۍ هڅه کوي، چې د ښار د پاکوالي لپاره د تل په څېر شپنۍ تنظیفي اشرونه ترسره کړي؛ ترڅو د ښار پاکوالي ته ښه او پر وخت رسېدنه وشي.